مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۹۲** (از ۲۴ عقرب الی اول قوس ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................ ۲

### کرزی هنوز بر افغانستان حکم می‌راند!

- آیا اختلاف دلیل تأخیر کابینۀ جدید است؟ ........................................ ۳
- اختلاف برسر کمیسیون‌های انتخابات ........................................ ۴
- انتظار تا کی؟ ........................................ ۵
- آیا کرزی همچنان بر مسند قدرت است؟! ........................................ ۵

### پاکستان؛ د اشرف غني د بهرني سیاست مهم عنصر

- د افغانستان-پاکستان اړیکې په کوم لور؟ ........................................ ۷
- ګډ فرصتونه ........................................ ۸
- د باور زیاتولو لپاره د اشرف غني هڅې ........................................ ۹
- د پاکستان له خوا د خپل نوم د رغولو هڅې ........................................ ۹
- له پاکستان سره امنیتي او دفاعي اړیکې ........................................ ۱۰
- سوداګریزې اړیکې ........................................ ۱۱

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د ولسمشر له خوا د نوې کابینې په اعلانولو کې د ځنډ او د اجرایوي رئیس له ډلې سره یې په شته اختلافونو او همدا راز پاکستان ته د ولسمشر غني د سفر او کړو پرېکړو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیز بورډ شننې لولئ.

ولسمشر اشرف غني د نوې کابینې د اعلانولو لپاره 45 ورځې وخت ټاکلی و، خو د دغې مودې له پوره کېدو سره لاهم نوې کابینه اعلان نه شوه او داسې ګنګوسې دي، چې د ملي وحدت د حکومت دواړې ډلې په ځینې مهمو مسایلو کې اختلافات لري. د دوی ترمنځ د اختلافاتو مهم ټکي او پر وړاندې یې نور خنډونه کوم دي؟ او بالاخره دا وضعیت په کوم لوري روان دی؟

دغه راز اسلام اباد ته د ولسمشر غني د وروستي سفر د پایلو او له پاکستان سره د نوي افغان حکومت د اړیکو په تړاو هم بېلابېل تحلیلونه اورېدل کېږي. دا چې د کابل-اسلام اباد اړیکې په کوم لور رواني دي؟ او د ښاغلي غني په وروستي سفر کې څه تېر شول او ترکومه به پر دغو دوه اړخیزو اړیکو اغېز ولري؟ هغه موضوعات دي چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

# کرزی هنوز بر افغانستان حکم می‌راند!



حکومت وحدت ملی بدنبال ماه‌ها تأخیر در اعلام نتایج انتخابات، بمیان آمد. حکومتی که بنیادی در قانون اساسی افغانستان ندارد و نتیجۀ سازش میان دو تیم انتخاباتی بود که فشارهای خارجی، آنرا ممکن ساخت. این سازش تقسیم قدرت به شکل ۵۰– ۵۰ را شامل بود که گمان می‌رفت فقط در اعضای کابینه خلاصه می‌شود.

رئیس جمهور غنی در روز ادای سوگند وعده داد که در مدت ۴۵ روز کابینۀ جدید را تشکیل خواهد داد، وعده‌ای که سپری شد اما عملی نشد.

وی همچنان وعده داده بود که کابینۀ وی متشکل از افراد پاک، متخصص و فعال خواهد بود و زمانی که اعلام کابینه به درازا کشید، هواداران رئیس جمهور تأکید داشتند که دلیل این تأخیر، انتخاب چهره‌های خوب است و مردم نباید نگران باشند زیرا «دیر آید، درست آید».

## آیا اختلاف دلیل تأخیر کابینۀ جدید است؟

هر دو تیم تلاش داشتند تا اختلافات را بی‌اهمیت جلوه دهند و حتی آنرا انکار کنند، اما هرقدر زمان بیشتر سپری گردید این شایعات تقویت شد که میان دو تیم در مورد تقسیم قدرت اختلاف نظر وجود دارد. گروه ده نفری متشکل از افراد دو تیم که برای انتخاب افراد برای کابینۀ جدید توظیف شده بودند در مرحلۀ چگونگی تقسیم قدرت، متوقف ماندند.

مشکل از آنجا بروز کرد که تیم دوم یعنی تیم داکتر عبدالله در مورد تقسیم قدرت تنها در حد کابینه بسنده نکرد و لیستی با جزئیات را، به تیم مقابل ارائه نمود. در این لیست، پست‌های دولتی از وزارت‌ها و معینیت‌ها و ریاست‌ها گرفته تا سفارت خانه‌ها در کشورهای مختلف بشکل «کلیدی» و «غیرکلیدی» تقسیم بندی شده است.

از اینجا بود که مشکل تعریف در پست‌های کلیدی و غیرکلیدی بروز کرد. بعنوان مثال وزرات مالیه از نظر هر دو تیم، یک وزارت کلیدی مالی است اما از نظر تیم داکتر عبدالله، بعضی از ریاست‌های این وزارت هم کلیدی اند. بصورت کلی از نظر تیم داکتر عبدالله تعداد کرسی‌های کلیدی در حکومت به مراتب بیشتر از تیم اشرف غنی است و تاکنون دو تیم بر سر یک تعریف مشخص از پست‌های کلیدی به توافق نرسیده‌اند.

گفته می‌شود که یک دلیل اینکه سروصدای این اختلاف تا کنون رسانه‌ای نشده و مردم از آن بی‌خبر باقی مانده‌اند، دوام فشارهای خارجی است.

## اختلاف برسر کمیسیون‌های انتخابات:

میراث دیگر اختلاف از دوران ریاست جمهوری حامد کرزی برای دولت وحدت ملی، موضوع کمیسیون انتخابات و شکایات انتخاباتی است. داکتر عبدالله خواهان اصلاحات در این کمیسیون‌هاست، تا آن دست‌اندرکاران آن‌ها که در تقلب دست داشته و یا به دلیل عدم مدیریت درست، موجب بحران در انتخابات ریاست جمهوری شدند، از کار برکنار گردند و نیز در قوانین انتخابات باید تغییر رونما شود تا انتخابات پارلمانی بار دیگر موجب بحران جدید در کشور نگردد؛ اما از جانب رئیس جمهور غنی تاکنون در مورد این مسئله حرفی شنیده نشده است. این درحالیست که از معیاد دورۀ تقنینی فعلی حدود شش ماه باقیست و شش ماه بعد باید انتخابات جدید پارلمانی برگزار گردد.

از جانب دیگر، قانون اساسی افغانستان در یک سال اخیر از دورۀ پارلمان، هیچ‌گونه تغییر در قانون انتخابات و نیز کمسیون‌های انتخاباتی را مجاز نمی‌داند که این خود مانع دیگری در راه این تغییر است.

اگر انتخابات تحت اشراف همین کمسیون و با همین چهره‌ها برگزار گردد، بدون تردید انتخابات پارلمانی نیز به سرنوشت انتخابات ریاست جمهوری مواجه خواهد شد. رؤسا و اعضای این کمسیون‌ها دست نشانده‌های رئیس جمهور پیشین حامدکرزی اند که شخص وی نیز متهم است با انتصاب این افراد در این پست ها، در بردن انتخابات ریاست جمهوری به بحران دست داشت.

## انتظار تا کی؟

گفته می‌شد که کابینه تا قبل از کانفرانس لندن اعلام خواهد شد و حتی زمانیکه تاریخ کنفرانس لندن تغییر کرد، شایعاتی بمیان آمد که گویا این تغییر زمان به دلیل تأخیر در اعلام کابینهٔ افغانستان است. بنابراین انتظار می‌رفت تا کابینهٔ جدید قبل از کنفرانس لندن یعنی قبل از ۴ دسامبر ۲۰۱۴ اعلام گردد. اما اکنون به نظر نمی‌رسد که این کار عملی باشد؛ زیرا قرار است رئیس جمهور غنی تا قبل از کنفرانس لندن در دو کنفرانس دیگر هم شرکت نماید؛ نشست سارک و کنفرانس ناتو. بنابراین فرصتی برای به میان آمدن کابینه، تا قبل از کنفرانس لندن نخواهد بود.

از طرف دیگر کنفرانس لندن فرصتی است تا حکومت جدید وحدت ملی، جامعهٔ جهانی را برای ادامهٔ کمک به افغانستان ترغیب نماید اما رئیس جمهور غنی در شرایطی به این کنفرانس شرکت می‌نماید که حتی گام نخست را برنداشته یعنی هنوز از کابینهٔ جدید خبری نیست.

شکی نیست که جامعهٔ جهانی از وجود اختلاف میان دو تیم علی الرغم دادن اطمینان از جانب عبدالله و غنی، نگران است. دوام این وضع می‌تواند موجب نگرانی شدید مردم افغانستان نیز باشد. در شرایطی که وضع اقتصادی در کشور بسوی بحران می‌رود و به گفتهٔ مسؤولین وزارت مالیه، افغانستان شاید تا یک ماه آینده توان پرداخت معاشات مامورین دولت را هم نداشته باشد، تأخیر در اعلام کابینه می‌تواند موجب مایوسی بیشتر مردم گردد.

خواست دیگر جامعهٔ جهانی از حکومت جدید مبارزهٔ جدی با فساد است. رئیس جمهور غنی در اجابت این خواست جامعهٔ جهانی، در نخستین روزهای ریاست جمهوری خویش دستور بازگشایی دوسیهٔ کابل بانک را داد و قرار بود تا این قضیه هم تا کنفرانس لندن فیصله گردد، اما این کار نیز به تأخیر مواجه شد.

در جریان محاکمهٔ متهمین کابل بانک، نام کسانی بمیان آمد که یا عضو خانوادهٔ کرزی اند و یا از یاران نزدیک وی. بدون شک اگر این قضیه بیشتر باز گردد، نامهای اشخاص دیگری نیز به میان خواهد آمد که می‌تواند برای حکومت جدید مشکل آفرین باشد.

## آیا کرزی همچنان بر مسند قدرت است؟!

رئیس جمهور غنی اکنون حکومت را با وزرای سرپرست و کشور را با والی‌های سرپرست اداره می‌کند که این وضع نمی‌تواند بیش از این قابل دوام باشد. این وزرا همان افرادی اند که سمبول‌های فساد حکومت حامد کرزی به شمار می‌رفتند و در گذشته نیز مردم افغانستان، از آنها خاطرهٔ خوش نداشته‌اند. به همین دلیل هم یکی از وعده‌های رئیس جمهور غنی بعد از انتخابات به مردم این بود که چهره‌های گذشته را بار دیگر بکار نخواهد گرفت؛ اما اکنون که نزدیک به دو ماه از عمر

حکومت جدید می‌گذرد، همان چهره‌ها هنوز بر سر کار اند و هر دوشنبه در مجلس وزرا شرکت می‌کنند، همانگونه که والی‌های دوران کرزی همچنان در ولایات، مصدر امر و نهی باقی مانده‌اند.

اگر انتخابات پارلمانی را هم کمسیون فعلی انتخابات و با اشراف دست نشاندهٔ رئیس جمهور پیشین برگزار نماید، کرزی در انتخابات پارلمانی آینده نیز دست باز در اعمال نفوذ خواهد داشت.

پس چه چیز تغییر کرده است؟ از حکومت قبلی فقط حامدکرزی ظاهرا کنار رفته است، اما ساختار همان دولت همانست که در دوران کرزی بود و همان عناصر و چهره‌ها همچنان بر مسند قدرت اند. بعبارهٔ دیگر کرزی همچنان بر افغانستان حکم می‌راند و داکتر غنی و داکتر عبدالله درگیر قفل و کلید پست‌های دولتی اند!

## پاکستان؛ د اشرف غني د بهرني سیاست مهم عنصر



د ولسمشر اشرف غني له وروستیو دریو بهرنیو سفرونو جوتېږي، چې په خپل بهرني سیاست کې ګاونډیو هېوادونو او اسلامي نړۍ ته ارزښت ورکوي او له همدې لارې په افغانستان کې د سولې ټینګښت ته هم هیله من دی. که څه هم لاڅرګنده نه ده چې نوموړی به د افغان سولې په تړاو په خپلو هڅو کې څومره بریالی شي؛ خو لړترلږه په دې اړه یې وروستي ګامونه د ستاینې وړ دي.

ولسمشر اشرف غني پاکستان ته د سفر پر مهال په الوتکه کې له خبریالانو سره په خبرو کې هیله منې ښودلې وه، چې د اسلام اباد-کابل دوه اړخیزې اړیکې به پیاوړې شي. ښاغلی غني څکه د دغو دوه اړخیزو اړیکو پر رغولو باوري دی، چې د ده په اند پخوانیو افغان چارواکو پاکستان ته ناځاپي سفرونه درلودلي؛ خو ده بیا دغه سفر ته ډېر چمتووالی نیولی و او له یوې اغېزناکې اجنډا سره اسلام آباد ته روان و.

### د افغانستان-پاکستان اړیکې په کوم لور؟

دا چې اشرف غني اسلام آباد ته له سفر مخکې دوه نور سفرونه (سعودي او چین ته) درلودل، نو دا سفر نه یوازې دا چې د همغو سفرونو یوه کړۍ بلل کېږي، بلکې د سولې لپاره د کابل د فعالې ډیپلوماسۍ هنداره هم بلل کېږي. دغه دوه یادشوي هېوادونه څکه مهم دي، چې د پاکستان ستراتېژیک ملګري دي او ډېرې شونتیا په دې اند دي، چې اشرف غني له دغو دواړو هېوادوونو څخه پر پاکستان د فشار راوړلو هدف لري، ترڅو د سولې په پروسه کې مثبت رول ولوبوي.

که د اشرف غني هیله همدا وي، نو ښایي تر څه حده په خپله موخه کې بریالی وي؛ څکه د پاکستان جګپوړو چارواکو ډاډ ورکړی، چې دوی به خبرو اترو ته د طالبانو د چمتو کولو لپاره رښتینې هڅې کوي. مګر که موخه د طالبانو ټکول او پر ضد یې عملیات کول وي، بیا نو د دغه سفر له پای ته رسېدو سره داسې ښکاري، چې دا موخه به ترلاسه نه شي؛ څکه

نه یوازې دا چې د مولانا فضل الرحمان څرګندونو بلکې د سرتاج عزیز وروستیو څرګندونو هم له افغانانو سره شکونه زیږولي او دا تبصرې یې د پاکستان د دوه مخي سیاست یوه نوې بېلګه بللې ده.

د اشرف غني له واک ته رسېدو سره د دواړو هېوادونو چارواکو ته د اړیکو رغولو یو چانس پر لاس ورغی. که څه هم د سرتاج عزیز وروستیو څرګندونو یو ځل بیا دا اړیکې زیانمنې کړې؛ خو بیا هم تراوسه دواړو لورو له دغه فرصت څخه تر یوه بریده ګټه پورته کړې ده.

ولسمشر غني له پاکستان سره ښو اړیکو او ملګرتیا ته ډېر ارزښت ورکوي؛ ځکه نو ده د خپلې لوړې مراسمو ته د پاکستان ولسمشر ممنون حسین رادعوت کړ او په دویم ګام کې یې په کابل کې د پاکستان د ملي امنیت او بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز ته وویل، چې باید پر یو بل له نیوکو کولو څخه ډډه وشي. ښاغلي غني په اسلام آباد کې هم د خپل سفر پر مهال څرګنده کړه، چې باید تېر هېر کړو او پرې نږدو چې پخوانۍ اړیکې مو راتلونکې اړیکې زیانمنې کړي.

## ګډ فرصتونه:

افغانستان او پاکستان په څو برخو کې ګډ ګواښونه او فرصتونه لري، خو د نوي ترانزیټي تړون له مخې په ګډو فرصتونو کې د "تاپي" او "کاسا ۱۰۰۰" پروژې، چې منځنۍ اسیا به له سویلي اسیا سره ننښلوي، د دواړو هېوادونو له مهمو ګډو فرصتونو څخه شمېرل کېږي. دا هغه پروژې دي دغو دواړو هېوادونو ته د ګټې رسېدو ترڅنګ به یې مثبتې اغېزې پر سیمه هم وښندل شي.

په همدې تړاو د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ پر سر خبرو ته، د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ او صنایعو خونې هیله منې دي، چې دواړه ګاونډیان به په اقتصادي ګاونډیتوب کې سره ونښلي. په بل اړخ کې اشرف غني هم د "آسیا زړه کنفرانس" د پروسې، د وربښمو نوې لارې او د اقتصادي مرکزونو له لارې غواړي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ورغوي.

## د باور زياتولو لپاره د اشرف غني هڅې:

که څه هم په اسلام اباد کې د ولسمشر غني د مهمو پرېکړو جزيات تر ډېره په رسنيو کې منعکس نه شول؛ خو نوموړي په دغه سفر کې د "کاسا[1] ۱۰۰۰" پروژه کې د پاکستان لپاره د يو کيلو واټ نرخ، چې پاکستان به يې د ترانزيټي فيس په توګه افغانستان ته ورکوي، له ۲.۵ سنټو نه ۱.۲۵سنټو ته راکم کړ. همدا راز يې د پاکستاني ديپلوماتانو د ليکنو له مخې، له هند څخه د وسلو رانيولو هوډ، چې د افغان-هند ستراتېژيک تړون له مخې هوکړه پرې شوې وه، فسخ کړ.

له هند څخه د وسلو رانيولو قرارداد پاکستان سخت پارولی و او هند هم د پاکستان دا اندېښنه تر يوه بريده په پام کې نيولې وه، چې له همدې امله يې خپلې وسلې پر افغانستان ونه پلورلې بلکې په دې اړه په يوه قرارداد بوخت و، چې له مخې به يې هند له روسيې څخه د کابل لپاره وسلې واخلي. اشرف غني دا هر څه د پاکستان-افغانستان ترمنځ د بې باورۍ فضا د له منځه وړلو او د باوري فضا د رامنځته کولو لپاره ترسره کړل.

ځينې شنونکي په دې اند دي، چې د پاکستان نظامي لويې قوماندانۍ ته د اشرف غني تګ له پروتوکول سره په ټکر کې و؛ خو که د اشرف غني همدې پرېکړې ته وکتل شي، نو جوته به شي چې ده هلته له تګ څخه وړاندې په دې فکر کړی و او پوهيده، چې د افغانستان په قضيه کې د پاکستان پوځ او استخبارات څومره رول او لاس لري؛ نو ځکه اشرف غني هم وغوښتل، چې نېغ په نېغه د افغانستان په تړاو له پاکستاني پاليسي جوړونکو سره خبرې وکړي.

پاکستان هم په همدې اړه لومړی سرتاج عزيز افغانستان ته راواستاوه او اشرف غني ته يې اسلام آباد ته د سفر وړانديز وکړ. وروسته يې د پوځ لوی درستيز جنرال راحل شريف کابل ته راغی او د رسمي سرچينو له مخې افغان حکومت ته يې ډاډ ورکړ، چې د سولې په پروسه کې به خپلې هڅې نه سپموي.  له دې وروسته د پاکستان د استخباراتو مشر جنرال رضوان اختر هم د خپلې کاري تګلارې په دويمه ورځ کابل ته سفر درلود، که څه هم د ده د سفر جزيات نه دي په ډاګه شوي؛ خو ويل کېږي چې د دواړو لورو ترمنځ پر امنيت خبرې شوې دي.

## د پاکستان له خوا د خپل نوم د رغولو هڅې:

د پاکستان له جوړېدو وروسته دغه هېواد په افغانستان کې ښه نوم نه درلود؛ خو پر افغانستان د شوروي اتحاد له يرغل سره دوی ته دا چانس په لاس ورغی، چې د افغانانو زړونه خپل کړي. له همدې ځايه وه، چې د دوی د هغه مهال له لوی درستيز جنرال ميرزا اسلم بېګ سره فکر پيدا شو، چې په افغانستان کې د هند پرخلاف ستراتېژيک عمق ترلاسه کړي.

[1] د دې پروژې له مخې به له تاجکستانه د افغانستان له لارې پاکستان ته برېښنا ولېږدل شي.

په افغانستان کې د کورنۍ جګړې پر مهال د هرې شخړې ترشا د پاکستان لاس بلل کېده، چې د طالبانو له راتګ سره دې خبرې ډېر زور واخست. د ۲۰۰۱ کال له سپټمبر میاشتې تر ۲۰۰۸ کال پورې هم په افغانستان کې د پاکستان نرم ځواک د هند په پرتله مخ پر ځوړ و، ځکه نو په کابل کې د پاکستان د سفیر په توګه د محمد صادق له ټاکلو سره پاکستان د خپل نرم ځواک د زیاتولو په هڅه کې شو. په دې تړاو دوی افغان محصلینو ته له ۲۰۰۹ کال راهیسې تحصیلي بورسونه ورکول پیل کړل او تر اوسه تقریباً ۲۰۰۰ افغان محصلین د پاکستان په پوهنتونونو کې په زده کړو بوخت دي. ترځنګ یې دوی په افغانستان کې لاندې پروژې هم پیل کړې، څو د دوی مسخه شوی نوم بیا ورغوي:

- په بلخ کې د لیاقت علي خان د انجینرۍ پوهنتون.
- په کابل کې د رحمان بابا لیسه.
- په کابل پوهنتون کې د علامه اقبال د کلاسیک ادب او ژبې د څېړنې فاکولته.
- په ننګرهار پوهنتون کې د سرسید د ساینس فاکولته.
- په جلال آباد کې د نشتر ګردې مرکز.
- په کابل کې د جناح ۴۰۰ بستریز روغتون.
- په لوګر کې د نایب امین الله خان ۲۰۰ بستریز روغتون.
- د جلال اباد-تورخم لاره[2].

## له پاکستان سره امنیتي او دفاعي اړیکې:

له ۲۰۱۱ کال وروسته د کابل او اسلام آباد ترمنځ اړیکې ډېرې کړکېچنې شوې. کله چې په دغه کال کې له یوې خوا استاد رباني ووژل شو او له بلې خوا افغانستان له هندوستان سره ستراتېژیک تړون هم لاسلیک کړ، د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ فضا لازیاته شوه او د دې بې باورۍ څرک د پاکستان د لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني او د افغان ولسمشر حامد کرزي په ویناو کې جوت و.

حامد کرزي پاکستان ته له طالبانو څخه د ملاتړ له امله د ملامتۍ ګوته نیوله او پاکستان بیا نه یوازې دا چې په افغانستان کې د هند له زیاتېدونکي رول څخه په وېره کې و، بلکې د هند له خوا د افغاني سرتېرو روزنې هم اندېښمن کړی و. پاکستان هم، هغه مهال د افغاني سرتېرو د روزلو وړاندیزونه وکړل، خو هغه مهال د کابل-اسلام آباد ترمنځ د سړو اړیکو له کبله دا ډول وړاندیزونه نه منل کېدل. پاکستان ته دا حالت ګواښونکی شو؛ ځکه دوی داسې انګېرله که کابل

[2] Muhammad Asif AhmadZai, Pakistan Promises Scholarships for Afghans, Pajhwok afghan news, see online: <http://www.pajhwok.com/en/2013/11/09/pakistan-promises-scholarships-afghans>

له پاکستان سره هم ورته معامله ونه کړي، نو په افغانستان کې به راتلونکی ځواک د پاکستان بنسټيز ضد وي او تر ډېره به افغان پاليسي جوړوونکي اغېزمن کړي.

اشرف غني هم، د پاکستان د دغې ويرې د راکمولو لپاره، چې يوازې هند به افغان اردو نه روزي، دوی ته هم د افغاني سرتېرو د روزنې وړانديز وکړ. که څه هم لا تراوسه دا جزيات نه دي روښانه شوي، چې دوی به د افغان سرتېرو لنډمهاله روزنه کوي که اوږدمهاله.

بل پلو اشرف غني د پاکستان په اعلی قوماندانی کې د پاکستان له لوی درستيز سره په کتنه روښانه کړه، چې د دفاع او امنيت په برخه کې هم له پاکستان سره ملګرتيا زياتول غواړي. په ټوليز ډول ډېری پاکستاني او افغان شنونکي په دې اند دي، چې د ملي حاکميت له ساتلو سره د پاکستان د اندېښنو لرې کول به، د اشرف غني د بهرني سياست برياليتوب وي، کوم څه چې افغان ولسمشر يې په اړه تراوسه مثبته پاليسي مخته وړي.

## سوداګريزې اړيکې:

دا چې افغانستان بحر ته لاره نه لري، نو د نړيوال قانون[3] له مخې هر دا ډول هېواد پر نورو هېوادونو، په تېره بيا ګاونډيانو دا حق لري، چې ترانزيټي لاره ورکړي. افغانستان د پاکستان له جوړېدو څخه پخوا هم له بريتانوي هند سره تجارتي اړيکې درلودې او له نورو هېوادونو سره به يې د تجارت لپاره د کراچۍ له بندر څخه ګټه اخېسته.

د يوې څېړنې له مخې له ۱۹۷۱ کال راهيسې تر ۱۹۹۰ کاله پورې د افغانستان او پاکستان ترمنځ هر کال د ۴۹۳ ميليونه کلدارو توکي تبادله شوي، چې دا بيا د پاکستان د مجموعي تجارت ۱.٦سلنه برخه جوړوي او د افغانستان د ټول تجارت ۵ سلنه[4] جوړوي.

په ۲۰۰۰ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ تجارت ۱۷۰ مېليون ډالره و، چې په ۲۰۱۰-۲۰۱۱ کال کې ۲.۵ مېلیارده ډالرو ته ورسېد او ترڅنګ يې افغان ترانزيټ تجارت هم د ۲۰۰۰ کال له ۱٦۱مېليون ډالرو څخه په لوړېدو، په ۲۰۰۹ کال کې ۱.۰۷ مېلیارده ډالرو ته ورسېد[5].

---

[3] Convention on Transit Trade of Land-Locked States.

[4] Rahim, Tariq (1990). Pakistan-Afghanistan Trade (1971-1990), Area Study Centre (Central Asia), University of Peshawar.

[5] Chaudhry, sajid( July 17, 2010). Pak-Afghan Transit Trade Agreement: Afghanistan says high import duties causing smuggling. Daily Times.

په دغه وروستي سفر کې د دواړو لورو د ماليې وزيرانو توافق کړی، چې له مخې به يې دوه اړخيزه سوداګري تر دريو کلونو پورې (۲۰۱۷ پورې) ۵ مېلیارده ډالرو ته ورسوي. په دې اړه دوی يو تړون هم لاسيلک کړی، چې له مخې به يې د دوه اړخيزې سوداګرۍ په لاره کې شته خنډونه لرې شي:

- د دواړو هېوادونو ترمنځ به ګمرکي معلومات تبادله کېږي.
- دواړه هېوادونه به په تورخم کې يو ګډ ګمرک جوړوي.
- د پولې د ګمرکونو کاري ورځې به په اوونۍ کې ۷ ورځو ته زياتوي.
- افغان توکي به له کراچۍ څخه پېښور ته په رېل کې راوړل کېږي.
- د افغاني او پاکستاني توکو بارکښۍ (cargo) مصارف به يو ډول وي.
- که په وزيرستان کې امنيت ښه شي، نو افغان ترانزيټ به د غلام خان بندر له لارې هم ترسره شي.
- دواړو پاکستاني او افغاني تجارانو ته بايد د يو کال لپاره د "ډېر ځله دخولې" وېزې ورکړل شي.
- د لاهور د سوداګرۍ او صنايعو خونې او د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې ترمنځ به په راروانو وختونو کې نېږدې اړيکې ټينګې شي.[6]

پای

**ارتباط با ما:**

ايميل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سايت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)

[6]President's Trip to Pakistan and Significant Outcomes in Improving Trade Transit of Two Countries. See online:<http://www.acci.org.af/component/content/article/38-news/531-presidents-trip-to-pakistan-and-significant-outcomes-in-improving-trade-transit-of-two-countries.html>